مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړونکی: رناګل اریوبزی

۲۰۲۲/۰۸/۲۸

# ســــيلا ني (اند ونيزيا)

## د ماشومانو له پاره لنډه کيسه

د « ماجاپاهيت » په نامه يوه بادشاهی کې يو بادشا وچې« پرابو براويجايا » نوميده او په ډيره هوشيارې يې حکومت کاوه. ده يوکوچنی الوتونکۍ درلود چې ښکلې ښکلې سندرې اوپه زړه پورې بدلې به يې ويلې. يوه ورځ په داسې حال کې ترې والوت چې دانه يې ور کوله. په ورپسې ورځ بادشا د ځان دساتنې له پاره خپلې جامې بد لې کړې، ديوه بې وزله سيلاني جامې يې واغوستې او د خبل تور سپي سره دالوتونکي په لټه پسې روان شو. له ډيره ورځو نه وروسته يوه کوچني کور ته ورسيد چې پکې « کيوانګزايودا » په نامه يوزوړ سړی او دهغه ميرمن اوسيدل. بوډا دميلمه سره روغبړ وکړل او ور ته وېې ويل چې دهغه الوتونکۍ يې موندلی دی. «پرابو يجايا» ترې وپوښتل چې:« ته له څه پوه شوې چې زه د دې الوتونکې خاوند يم؟» بوډا يوازې دومره ورته و ويل چې:« پنځه ورځې وړاندې يو الوتکی راولوت، مايې پالنه کوله او بياچې کله زه ويده شوم، به يوه جادو شوې اواز کې راته و ويل شوچې دالوتونکي خاوند به ديوه تور سپي سره کور ته درشي. ته الوتونکۍ هغه ته ورکړه. له هغه راهسې ډيرو خلکو رانه وغوښتل چې په وېې پلورم، خو ومې نه منل.» الوتونکۍ يې ورکړ. بوډا او ميرمنې يې دبادشا نه، چې دسيلانۍ جامی يې اغوستې وې، وغوښتل چې د دوی سره په کور کې تم شي. ښځه او ميړه هيڅ نه پوهيدل چې دا سيلاني په حقيقت کې يو بادشا دی. دبلې ورځې په سهار، وړاندې تر دې چې « پرابو براويجايا » د کور په لور راستون شي. وويل چې:« تاسې له ماسره ډيره مرسته وکړه، زما الوتونکۍ مو بيرته راکړ اوزه مو دهغه دخښتن په توګه ومنلم، ته سر له اوسه زما ورور يې، داخپل سپی دلته درته پريږدم. هيله ده چې پالنه به يې وکړې، که کوم وخت وغواړې چې په ښار کې زموږ کور ته راشې، دی به دلارې په پيدا کولو کې مرسته در سره وکړي«.

دوه کاله وروسته د بوډا کې سره د « ورور » دليدو هوس پيدا شو. دميرمنې سره يې خدای په امانې وکړه او د ښار په لور روان شو. په ښار کې مجبور شو چې په سپۍ پسې روان شي، ځکه چې ده دخپل ملګري کور نه پژنده. يوه قصر ته ورسيد ل، سپی نيغ په نيغه ور ننوت، بوډا سره له دې چې ډاريده، په سپي پسې روان شو، که څّ هم ځوک به چې بې بلنې قصر ته ننوتل جزا ور کول کيده. دی په دې وخت کې دبادشا سره مخامخ شو، بوډا ډير ډاريده اوبادشا ته په ملا کې ټيټ شو او دهغه مخ ته يې دکتو جرأت نه درلود.

بيايې خندا اويو غږ واوريد چې ويل يې:« پاڅه، موږ سره ورونه يو، ايا داسې نه دی؟» بوډا ودريد او ويې ليد چې دا بادشا خو په رښتيا همهغه سيلاني دی. بادشا دبوډا ښه قدر اوعزت وکړ اويو غټ کدو يې دتحفې په توګه ورکړ. بوډا کورته په لاره کې ډير په قهر اوغوسه و، ځکه چې کدو ډير غټ او دروند و. کله چې کورته ورسيد ميرمنې ته يې و ويل چې:« داستا د ليوره تحفه ده.» کدو يې په مځکه وغورځاوه، ميرمن يې وډارشوه، ځکه کله چې کدو مات شو، ويې ليد چې دطلا او جواهراتو نه ډک دی. کله چې بوډا دا حال وليد ، نو له دې چې په بادشا بدګمانه شوی و، بخښنه يې ترې وغوښته.

له هغه راهسې ميړه او ميرمن يې دبډايې جوړې په توګه ژوند کاوه، خو په ټول ژوند کې سنګين او متوضع پاتې شول.

Quelle: Volkstümliche Überlieferung, Deutsch von Joshua Gani



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ